DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

سال چهارم شماره ۲۱۳
شماره مسلسل ۵۷۲
چهارشنبه ۱ میزان ۱۳۸۳ هـ ش
۷ شعبان ۱۴۲۵ هـ ق
22 September, 2004

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

هوشدار به پناهنده گان افغان مقیم پاکستان

گلبدین حکمتیاربه پناهنده گان افغان مقیم پاکستان هوشدار داده است که در انتخابات ماه آینده کشور اشتراک نکنند.

این هوشدار امیر حزب اسلامی بشکل شب نامه های کوچک در مناطق مرزی میان افغانستان پاکستان و درکمپ های مهاجرین افغان پخش شده است.

قرار گزارشات هم اکنون حدود دو میلیون افغان مهاجر در پاکستان بسر می برند. ملل متحد امیدوار است نصف این تعداد را برای انتخابات راجستر نماید.

گرچه بیانات حکمتیار خیلی کم به گوش می رسد اما لهجه ومفهوم واحد دارد یعنی نفرت از امریکا و متحدین آن در افغانستان وباز هم قیام زیر نام اسلام.

به نظر آقای حکمتیار معنی رأی دادن در افغانستان حمایت از جورج بوش ، تونی بلیر وولادیمیر پوتین است.

گمان می رود این جنگسالار سابقه دار و همکار برجسته طالبان والقاعده در افغانستان پنهان شده باشد بهر حال نیروهای امریکا وائتلاف در تعقیب او هستند.

د جاپان او افغان مشرانو کتنه

د انتقالي دولت مشر حامد کرزی د جاپان له لومړي وزیر جینو شیرو کولیزومي سره په افغانستان کې د ولسمشری د راتلونکو تولټاکنو او امنیتي حالاتو په اړه خبری کړې دي.

ښاغلي کرزی د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلی په غونډه کې د ګډون لپاره د نیویارک د سفر په ترڅ کې د جاپان له لومړي وزیر سره د کتنې پر مهال د ترهګرۍ په مبارزه او د افغانستان د بیا رغونې په چارو کې د جاپان له مرستو او همکاریو مننه کړې او ویلي یې دي چې د نړیوالې ټولنې په ملاتړ به افغانان وکولای شي چې د خپلوا آزادو رایو له لارې د افغانستان راتلونکی منتخب ولسمشر وټاکي. ټاکل شوی چې کرزی پدغه وخت کې د نړۍ له زیاترو لوړ پوړو چارواکو سره خبری اترې وکړي.

حمله به دفتر یک موسسه کمک رسانی در نورستان

طی تازه ترین عمل خشونت آمیز طالبان نه کارمند افغان یک موسسه بین المللی در دفتر شان مورد حمله وچپاول قرار گرفتند.

دیسمیتریک سخنگوی موسسه کمک رسانی گفت که در حدود ۳۰ نفر،دفتر آنهارادرولایت نورستان مورد حمله قرار دادند. ص۲

امریکا د سوداګری او پانګوني مناسب شرایط برابروي

د امریکا متحده ایالات په افغانستان کې د سوداګرۍ او پانګې اچونې ودې او پراختیا ته د ښو شرایطو د برابرولو ژمنه کړې. ۴مخ

په بلخ کې د ټانمنې پرله پسې پېښې



د بلخ ولایت دده دادی په ولسوالی کې د ناپیژندل شوو وسله والو کسانو په حمله کې ورمه شپه ددغه ولایت د پنځه نویمې فرقې د اوپراسیون رئیس نظر محمد پخپل کور کې وژل شوی دی. دا په دوو وروستیو ورځو کې پدغه ډول دا درېیمه پېښه ده چې د ناپیژندل شوو کسانو دویم برید دی چې په ترڅ کې یې مرګ ژبله رامنځ ته کېږي. ورمه ورځ دوو ناپیژندل شوو کسانو چې په موټر سایکلونو سپاره وو د ښار په یوې ګڼه ګوڼې ډزې وکړې ۴مخ

در گیری دربدخشان: سه کشته، یک زخمی

در یک درگیری که میان دو قوماندان محلی مربوط تنظیم جمعیت اسلامی در بدخشان صورت گرفته سه نفر کشته یک تن دیگر مجروح شد.

جنرال نذیر محمد یفتلی قوماندان لوای ۳۳۸ که در ترکیب یک هیأت دولتی به محل در گیری اعزام شده بود گفت: این در گیری در ولسوالی درواز ولایت بدخشان میان دو قوماندان بنام های عبدالله وذکرالله صورت گرفت که هیأت اعزام شده توانست این در گیری را پایان بخشد.

مردم بدخشان دراین اواخر چندین بار از ناامنی و وجود افراد مسلح غیر مسئوول به دولت مرکزی اظهار نگرانی کرده و خواستار اقدام فوری علیه این گروه ها وقوماندان رقیب شده اند.

قانونی خط مشی خودش را اعلام کرد

اسلام، ثبات، امنیت

محمد یونس قانونی یکی از نامزدهای انتخابات ریاست جمهوری بعد از چند روز انتظار برای یک هدف مشخص دیروز خط مشی خود را تحت عنوان افغانستان نوین اعلام کرده گفت:

اسلام، ثبات و امنیت را به عنوان شاخصه های برنامه های انتخاباتی اش در نظر دارد. او گفت: که عزم دارد تا در صورت احراز پست ریاست جمهوری و تشکیل دولت آینده حضور نیروهای خارجی در افغانستان را قانون مند سازد، جایگاه مجاهدین را مشخص کند و از تبلیغات سوء علیه مقدسات اسلامی و مجاهدین جلو گیری کند.

درین برنامه آقای قانونی بر قانونمندی، شایسته سالاری، مردم سالاری و پاسخگویی دولت به نهاد های ملی مانند پارلمان تاکید کرد. او افزود که اگر در انتخابات پیروز شود دولتش را موظف خواهد ساخت تا هر شش ماه به پارلمان حساب دهی کنند. وی گفت پست های وزارت در کابینه وی پست های سیاسی خواهد بود و معینیت های آن پست های تخنیکی.

آقای قانونی گفت که مذاکرات وی با آقای کرزی به طور مستقیم انجام نشده بلکه داکتر عبدالله وزیر خارجه حامل پیام های آقای کرزی در جریان این مذاکرات بوده است. وی عضویت خود را در شورای هماهنگی کاندیدان که در مقابل کرزی متحد خواهد بود تائید کرد.

در انتخابات نباید راه بیتفاوتی را برگزید، زیرا این مسوولیت بزرگ اسلامی و ملی ماست



د لوی او ښښونکی خدای په نامه
سرمقاله

د تخریبي عناصرو زهرجن تبلیغات زموږ ولسونه تر ایستلی نشي

کله چې په هیواد کې د تروریستي او القاعده عناصرو او نورو کاوندیو کړیو په هر اړخیزو پوځي. سیاسي او مالي مرستو د طالبانو ورځ په ورځ پراخیدونکی واکمنی له منځه لاړه او اکثره غړی له پولی اخوا په قبایلي سیمو کې د ځان د ساتلو لپاره پټ شول څو میاشتی لاتیری نه وي چې د هیواد په سرحدي سیمو کې ځای ځای د تخریبي فعالیتونو د کولو لپاره ننښي او بیلګې را څرګندی شوي چې نوموړی تخریبي فعالیتونه اوس د هیواد نورو سیمو ته روان دي چې تر مرکز پورې هم راورسیدل چې اوس د هیواد په خورو ورو سیمو کې د هر تخریبي عمل او وژنې پتو او بنکاره بریدو مسوولیت په غاړه اخلي په هیوادکې له بیلا بیلو سرحدي سیمو څخه د امنیتي مسولینو د ریوتونو له مخې تخریبي عناصر د پولي له هغی خوا د تخریبونو لپاره را روان دي.

نوموړو تخریبي عناصرو اوس بیا د دولت او نړیوالو سوله ساتو ځواکونو پر خلاف د جهاد اعلان کړی دی او غواړي چې پدې توګه زموږ خلك یو ځل بیا د خپل دولت او خلکو په ضد را وپاروي هغوی غواړي د مذهب او جهاد په نامه زموږ د خورو ورو ولسونو له پاکو احساساتو څخه استفاده وکړي او پدی اوسنیو شرایطو کې زموږ انتخاباتي بهیرونه ګډوډ او هیوادوال په انتخاباتو کې د رایو له ورکولو څخه شاته کړي د رارسیدلو ریوتونو له مخې په پاکستان کې په افغان مهاجرو باندې معلوم الحاله تخریبي کړیو زور اچولی دی چې د انتخاباتو په بهیرونو کې نه یوازې چې ګډون ونه کړي بلکی په جهاد لاس پورې کړي.

د ایتلافي ځواکونو ویاند سکات نیلسن د تیرې دوشنبې په ورځ وویل: چې د القاعده تروریستي شبکی او د طالبانو مشرانو څو واړه له یو بل سره کتلی او د راتلونکو ټولټاکنو د بهیر د ویجاړولو په موضوع یې خبری کړي دي.

نوموړي وویل: چې د دواړو نسبتاً لوړو پوړو مشرانو د حکمتیار له استازو سره هم لیدنی کړي دي داسې ښکاري چې پدی وروستیو وختو کې د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې د تخریبي عناصرو له خوا نه یوازې دا چې تخریبي فعالیتونه او وژنې زیاتی شوي بلکی عملاً په ښکاره او جهر سره د دولت ملي او نړیوالو ځواکونو پرخلاف د جهاد د اعلان په کولو سره خپلو تبلیغاتو ته دوام ورکوي. ۴مخ

زمونږ ملي اردو د خلکو او هیواد په خدمت کې

اشرف

هره اردو چې ملي ځانګړتیاوی ولري د یوی ټولنی د سراسری امنیت او ځمکنی تمامیت په ساتلو کې مخکی رول او د ټولنی لپاره د ملا د تیر حیثیت لری. په ملاماتی ټولنې تل د ګاونډیانو او لیری متجاوزینو له خوا په بیلابیلو پلمو ځورول کیږی نیول کیږی او د غلامی کړی وراچول کیږی.

مونږ د سیمی د هیوادونو ترمنځ یوه پیاوړی او په عصری پوهه سمبال اردو درلوده چې د اردو ټول سربازان د هیواد او خلکو د ژوندانه د ساتنی په بیلابیلو اړخونو د پیاوړو او مسلکی افسرانو له خوا روزل شوی وو او د هیواد د اوسنیو پوځی اړتیاوو د پوره کولو لپاره یې پوره ځواب ویلای شو خو د ملی او نړیوالو شرایطو او په هیواد کې د بیلابیلو سیاسی اهدافو د رامنځته کیدلو له املې زمونږ باتجربه، روزنیزه، او ازمایل شوی اردو د سیاستونو ښکار شو د ۱۳۷۱ کال راهیسی چې د ډاکټر نجیب الله واکمنی د بیلابیلو جوړښتونو، تمایلاتو او مشارکتونو په نتیجه کې ختمه او واکمنې د مجاهدینو د تنظیمونو په لاس کې ورغله د دی پرځای چې مرکزی واکمنی د هیواد ابدیده اردو په خپل زور تجربه او مسلکی پوهه سره وساتی، پاملرنه ورته ونه شوه اردو په خپل حال سره ختمه او په ځای یې په بیلابیلو ولایاتو کې ملیشی ځای په ځای شوی چې د مجاهدینو مرکزی واکمنی په هیڅ صورت سره ونه شوای کړای چې اردو وساتی او یا یې په وسله تونونو کې وسلی وساتل شي ډیره موده نه وه تیره شوی چې په پوځی او ملکی برخو کې اختلاسونه د پاکستان بازارونه په وسلو او ګولیو ډک کړل. د طالبانو په راتګ سره دغه دود دوام وکړ او زمونږ هیواد د خپلې ملی اردو له لرلو څخه بې برخی پاتی شو.

اوس چې په هیواد کې بیا د ارامی شیبی شمیرو د نړیوالو ځواکونو د هر اړخیزو مرستو په نتیجه کې په هیواد کې د ملی اردو او ملی پولیسو د روزلو لپاره ګټور او جوړونکی ګامونه پورته شوی چې د هیواد له بیلابیلو سیمو او قومونو څخه ځوانان د هیواد پالنی په روحیه سره د اړندو کمیساریو له لارې راځی او په حربی پوهنتون کې له روزلو وروسته د خدمت لپاره وړاندی کیږی.

خو له بده مرغه چې ځینی د ولسمشری لپاره کاندیدان زمونږ په دغه نوی روزل شوی اردو چې ټول یې ځوانان او د هیواد د خدمت لپاره په رښتینی اخلاص سره راغلی دی د اجیري اردو نوم ورکول کیږی او زمونږ دغه نوي روزل شوي او روزل کیدونکي اردو د هیواد او خلکو د خدمت لپاره ورنه بولی او خلکو ته ډاډ ورکوي چې ګنی زه به په خپل اند د یوی ملی اردو بنسټ کیږدم، مونږ اوس د هیواد پدی حساسو شرایطو کې راګیر شوی یو چې له یوی خوا دښمن راته په کمین کې ناست دی له بلی خوا په هیواد کې لا هره سیمه د وسلو په ګدام بدله شوی دی DDR تر اوسه پوری په خپله ټوله موده کې د وسلو د ټولولو په برخه کې بری تر لاسه نه کړ. او په هره سیمه کې خلک د وسله والو ملیشو او وسله والو ملکی اشخاصو له شته والی څخه په تکلیف دی.

نو د هیواد پداسی شرایطو کې په ځغرده ویلای شو چې زمونږ اړتیا ملی اردو او ملی پولیسو ته زیاته لیدل کیږی چې په نوی پوهه سره وروزل شی او د خپلی پخوانی ملی اردو په څیر هر اړخیزه پوهه تر لاسه او د هیوادوالو سره مینه تر لاسه کړی او هر ګام دخلکو او هیواد د ابادی او سمسورتیا لپاره پورته کی خو هغه اشخاص چې پدی شرایطو کې د ملی پوځ لپاره د یوی اجیری اردو په خطاب د خدمت هیله تری نه کوی باید چې د هیواد ترینګلی شرایط درک او په اوسنی اردو چې خلك یې غواړی وویاړی د پالللو، روزلو او پیاوړتیا لپاره یې هیوادوال هر اړخیزی هلې ځلې وکړي.

بهرني ځواکونه او زمونږ سراسري امنیت

دیدار

د سنبلی له میاشتی څخه د دی لپاره چې هیوادوال د ولسمشری ځوکی ته د کاندیدانو د کامیابیدو په صورت کې د هغوی له راتلونکو کړنلارو څخه پوره خبر شی د دی وخت ورکړل شوی دی چې خپلی کړنلاری د خپرونو له لاری خلکو ته ورسوی، تبلیغاتی کمپاین پیل شوی دی.

په هیواد کې د ازادی او دموکراسی او د نوی اساسی قانون له مخی کاندیدانو ته د دی حق ورکړل شوی دی چې خپل نظر او کړنلاره له بندیزونو پرته د خلکو په مخکی کیږدی څو خلك وکړای شي د خپل نظر وړ کاندید معلوم او رایه ورکړی.

خینی ښاغلی کاندیدان د هیواد پدی حساسو شرایطو کې چې لا په خپلو پښو ودریدلی نه یو او هره شیبه دښمن راته په کمین کې ناست دی تروریستی او تخریبی فعالیتونه د معلوم الحاله دښمنانو په هر اړخیز لمسونه او مرسته زیات شوی دی.

په هیواد کې د ځینو مرستندویه ځواکونو چې په هیواد کې د امن او امنیت د رامنځته کولو د معلوم الحاله مخربو عناصرو د بیخی له منځه وړلو تر وخته د مرستی لپاره راغلی دی تل د خپل پروګرام په سر کې د خلکو لپاره یادوی چې د بریالیتوب په صورت کې بهرني ځواکونه وباسم.

او په خپل اند غواړی چې پدی خپل پروګرام سره به د خلکو د پراخه قشر همکاری زیاته او له ځان سره به یې یوځای کړی.

پدې پوهیږو چې زمونږ هیواد به پخپله د افغانانو په لاس ودانیږی.

او تر هر چا زمونږ د سراسری امن او امنیت او د ځمکنی تمامیت د ساتلو لپاره زمونږ د خپلو خلکو هر اړخیزه مرسته او زمونږ د خپل ملی پوځ غښتلتیا او پیاوړتیا ضروري ده او د هیواد د ابادی لپاره تر هر چا زمونږ د خپلو ملي پوځونو شته والی او کلك ملی یووالی ضروری دی.

خو دا خبره باید هم هیره نه کړو چې دهیواد په اوسنیو شرایطو کې چې له یوی خوا د تخریبی عناصرو تخریبی عملیات له اطرافونو څخه د جهاد په نامه د مرکز په لوری را نږدی شوی او د هری ورځی په تیریدو سره یې د خلکو اندیښنی زیاتی کړی او له بلی خوا د وسله سالارانو د وسلو شته والی په خپله لوړه فیصدی سره موجود دی او تر لومړی دویم خطر د ملك د ابادی او سمسورتیا لپاره زیات خطر ناك دی نو په داسی شرایطو کې مونږ مجبور یو او مجبور به یو تر څه وخت پوری چې په هیواد کې امنیتی فضا واکمنه شی د بهرنیو ځواکونو شته والی ضروري وبولو. نو په داسی حالاتو او شرایطو کې چې مونږ لاتر اوسه په پوځی او سیاسی لحاظ په پښو ودریدلی نه وو لاتر اوسه پوری مو له پرونیو بدبختیو څخه پوره سا ایستلی نه ده د بهرنیو ځواکونو د ایستلو او ورته د ځواب د ورکولو تصمیم چې د بهرنیو دوستانو په خوله چې دا ځواکونه به د امن او امنیت تر راوستلو پوری موجود وی له وخت څخه د مخه خبره ده که چیری د هیواد په اوسنیو شرایطو کې د بهرنیو ځواکونو د تللو موضوع چې زمونږ د خلکو او مرکزی انتقالی دولت په پرله پسی غوښتنو سره راغلی دی عملي بڼه غوره کړی د تخریبی او تروریستی عناصر په بیړه راتګ به یو خل بیا په هیواد کې د پوره ګډوډي او د وینو توییولو لپاره زمینه برابره کړی لازمه ده چې ښاغلی کاندیدان د هیواد د ابادی او هر اړخیز پرمختګ لپاره نور پراخه امکانات په پام کې ونیسی کولای شی چې د وسلو د ټولولو او د تروریستی عناصرو د هر راز بریدونو د له منځه وړلو لپاره خپلی طرحی د ملت په وړاندی کیږی او د خلکو په وړاندی د شوو ژمنو د عملی تطبیق خواوی وسنجوي څو د هیوادوالو په زړونو کې خای ونیسی او خلك په خان راټول کړی. اوس چې په هیواد کې څومره په نسبي توګه د جوړولو او امنیتي برخه کې کار شوی د بهرنیو سوله ساتو ځواکونو د هر اړخیزی مرستی له املې شوی دی او هیله من یو چې زمونږ د ملي پوځ د زیاتوالي او پوخوالي په رامنځته کیدو نوره هم امنیتي فضا بشپړه شي.

مراعات نکردن عفت کلام چانس برنده شدن را کمتر می سازد

م حباب

... و اکنون که مبارزات آغاز گردیده، همه کاندیداتوران محترم تلاش دارند تا خود را در اذهان و انظار ملت مسئول، وطندوست، آگاه و برخودار از آنچه صفات انسانی است، جلوه دهند، هر کدام به نوعی در جریان اعلام خط مشی خود، خود را عالیترین و مطبوع ترین فرد جامعه قلمداد میکنند.

وقتی آقای محترم دبیر که کاندید پست ریاست جمهوری است در اعلام خط مشی خود عفت کلام را که شایسته ء یک رئیس جمهور است مراعات نکرده، حرف هایی که بیشتر به دشنام شبیه است به رئیس دولت افغانستان خطاب کند، چگونه مردم بالای وی اعتماد کنند و او را به این پست که سرنوشت سی میلیون هموطن ما در برنده شدنش بستگی دارد، انتخاب کنند.

آیا آقای دبیر از آزادی مطبوعات کمال سوء استفاده را نکرده اند؟ گفته اند: "یک انسان را در موقع قدرت آزمایش کن!"

طی دو سال و نیم که آقای کرزی رئیس دولت افغانستان است کی را به قتل رساند و کی را به زندان افگند، کی را به عنوان مجرم به دار آویخت و از کی انتقام گرفت؟

در حالیکه بر اریکه ء قدرت بود و میتوانست چون رژیم های گذشته از هیچ نوع استفاده جویی دریغ نورزد، ولی چون قلباً وطن و مردم خود را دوست داشته و دارد صمیمانه کوشیده است تا جلو هر نوع خشونت را بگیرد، چرا که وی از تریبه سالم برخوردار است.

همه را یکسان دوست دارد و به همه ارج و احترام قایل است. هر گز به کسی اهانت نکرده و همه چیز را با کمال حوصله مندی به امید اصلاح جامعه پذیرفته است.

آقای محترم دبیر ادعا دارند که آقای کرزی در میان دیوارهای سمنتی و سیم های خاردار و در میان محافظانش خود را پنهان میسازد!

آیا در کشوری که تروریزم بدبختانه هنوز هم شدیداً فعالیت دارد به کدام دلیل خود را در اختیار تروریستان قرار دهد. تروریستانی که از کشتن یک فرد عادی این مملکت که نه نفعش به کس میرسد و نه ضررش، چون سادیست ها لذت میبرند، چگونه امکان دارد که رئیس جمهور کشور به محافظتش علاقمند نباشد، رئیس جمهوری که زندگیش برای خودش آنقدر ارزش ندارد که برای سی میلیون هموطنش با ارزش است.

وقتی آقایان کاندیداتور سخنرانی میکنند نباید با حرف های اهانت بار خود که بیشتر جنبه ء عقده یی دارد، دموکراسی و آزادی مطبوعات را مسخره سازند و این حرف ها مردم را بیشتر معتقد میسازد که درین وطن واقعاً قحط الرجالی است.

حمله به دفتر یک موسسه...

دیسمیتر گفت: چندین نفر مورد لت کوب قرار گرفت اما کسی شدیداً زخمی نشده است به گفته وی وسایل دفتر و دوموتر آن موسسه به سرقت برده شده است. شخصی که ادعا دارد سخنگوی طالبان است به خبر گزاری فرانس پرس گفت ملیشه های طالبان مسئوول این حمله اند.

نورستان از جمله مناطقی است که علاوه بر طالبان افراد مربوط به گلبدین حکمتیار در خشونت ها وناامنی های اعمال شده در آن دست دارند.

ورزش ضامن تندرستی

متصدی صفحه: بشیر نذیر

له هفه سره مرکه چې د قهرمانۍ لقب یې وګاټه

یوګوسلاویا ، هنګری، اطریش، چیک، ډنمارک، جرمنی، هالنډ، بلجیم فرانسه ته په بایسکل سفر وکړ له فرانس نه لندن ته په بیړۍ کې لاړم او له لندن نه امریکا ته په الوتکه کې او بیا په امریکا کې له شپږو جموریتونو ورجینیا، واشنګټن، فلادلفیا، پنسلوانیا، باټی مور، نیویارک څخه تیر شوم او پدی ډول می د افغانانو پیغام ملګرو ملتونو ته ورساوو.

ډاکټر صاحب ستاسو د سولې په پیغام کې څه راغلی وو.

پدی پیغام کې راغلی وو چې افغانان له جګړو ستړی شوی نور په سوله کې ژوند غواړی. او په دنیا والو د مرستې غږ شوی و.

پوښتنه: تاسو پدی سفر کې د چا له خوا وستایل شوی او که نه؟

-ولی نه، د ملګرو ملتونو له خوا وستایل شوم یو ستاین لیک یې راکړ.

د افغانستان د سولې د ټولنې له خوا هم د سولې جایزه راکړل شوه د هیواد د المپیک ریاست له خوا د قهرمانۍ دیپلوم راکړل شو.

او دادی اوس د دولت له خوا د قهرمانۍ لقب راکړل شوی چې لیکلی سند یې د دولت د لومړی مرستیال مارشال فهیم له خوا راکړل شو.

ډاکټر نادرشاه وویل:

هر هیواد ته چې رسیدم ټولو پرمختګ کړی و د خپل وطن په وروسته پاتې کیدو ډیر خفه کیدم.

پوښتنه: د هغو هیوادونو چلند له تاسو سره څنګه و؟

-هغوی فکر کاوه چې موږ له دنیا نه بې خبره یو

ډاکټر ننګرهاری د ورځنۍ سفر په هکله وویل:

هره ورځ مې معمولاً لس ساعته سفر کاوه او هر ساعت کې می له ۱۲۰-۱۳۰ کیلومترو پورې سفر کاوه او لګښتونه په هر هیواد کې افغانی سفارت راکول.

ډاکټر صاحب! په لاړو کې ستا امنیت چا نبولی و که نه؟

-ولی نه، په هر هیواد کې د پولیسو تر نظر لاندې وم او اکثره وختونه به راسره وړاندې یا وروسته روان وو.

ډاکټر ننګرهاری خپلو هیوادوالو او په تیره د سپورټ مینه والو ته په پیغام کې وویل:

زما له افغانانو څخه هیله داده چې په سوله کې ژوند وکړی او یو بل له بل سره وروری ولری او یو بل ته د مرستې لاسونه ورکړی او اوسنی تریګنی او زړه بدوالی له منځه یوسی.

ډاکټر صاحب بیا د کوم ابتکاری سفر لپاره څه چمتوالی لری او که نه؟

- که رښتیا درته ووایم اوس خو ستړی شوی یم هیله می داده چې نور ځوانان ابتکاری سفرونه وکړی او په نړۍ کې د قهرمانۍ نومونه تر لاسه کړی خو باید ووایم چې زموږ هیوادوال غریب دی که څه هم له سپورټ سره مینه لری خو وسایل او خواړه یې لاړم نه دی هیله می داده چې د المپیک ریاست له لوبغاړو سره عملاً مرستې وکړی او داسې لوبغاړی د لوبو او سیالیو لپاره ولیږل شی چې په خپله رشتهٔ کې وارد وی او بریالی راستون شي.

زما د سفر یوازینی هدف دا و چې زموږ د جګړو ځپلو خلکو د سولې غوښتنې پیغام په خپل لاس د ملګرو ملتونو سرمنشی کوفی عنان ته ورسوم او بله دا چې د بایسکل ځغلولو په لوبه کې د نړۍ د یو شمیر هیوادونو په لیډلو سره د قهرمانۍ لقب تر لاسه کړم او پدی مقصد کې بری ته ورسیدم د هیواد بیرغ مې په خپل لاس ملګرو ملتونو ته ورسولو.

پورتنۍ خبرې د سرخ رود ولسوالۍ د غاښونو د ډاکټر نادر شاه ننګرهاری دی چې د ۱۳۸۱ کال د ثور په لومړۍ نیټه یې د کابل د بهرنیو چارولې وزارت څخه په بایسکل باندې خپل سفر پیل کړ.

او د ۱۳۸۲ کال د ثور په ۶ نیټه د ډیرو خلکو د وینا پر خلاف چې ډاکټر ننګرهاری په بهرنیو هیوادو کې د تل لپاره پاتې شی بیرته خپل هیواد ته راستون شو.

ډاکټر ننګرهاری د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: ما پدی سفر کې ایران، ترکیه، بلغاریا،

ایران از سد هند گذشت

تیم باسکتبال جوانان ایران در مسابقه های باسکتبال جوانان آسیا در هند عصر روز دوشنبه تیم میزبان را شکست داد.

تیم باسکتبال ایران در این مسابقه باحضور بیش از ۲ هزار تماشاگر هندی با ۴۲ امتیاز اختلاف با نتیجه ۸۷ بر ۴۵ تیم هند را مغلوب کرد. در این مسابقه بیش از ۵۰۰ نفر ازتماشاگران از ایران نیز حضور داشتند که متداوماً تیم ایران را تشویق می‌کردند.

مسابقه های باسکتبال جوانان آسیا روز سه شنبه گذشته با شرکت ۱۶ تیم از کشورهای مختلف آسیا در مجموعه ورزشی راجیو گاندی شهر بنگلور در جنوب هند آغاز شد. در بازی دیگر کشورهای هم گروه با ایران تیم کوریای جنوبی تیم قزاقستان را شکست داد

بیوګرافی مختصر شهید پهلوان عبدالوحید

شهید پهلوان عبدالوحید ولد حاجی قمر الدین که بتاریخ ۱۳۶۶/۲/۱ در قریه علاوالدین علیا دیده به جهان گشود و در سال ۱۳۷۴ شامل مکتب گردید که تحصیلات ابتدایی خویش را الی هنگام مرگ تا صنف نهم در لیسه حبیبیه ادامه داد و در سال ۱۳۷۸ به اثر تشویق پدرش و شوق و علاقه خاص که به رشته پهلوانی داشت شامل مکتب پهلوانی جوانان کابل گردید که تحت نظر استاد نجیب الله همدرد به تمرین خود ادامه داد و در مسابقات سال ۱۳۸۰ در کلاس ۳۸کیلو گرام مقام دوم را حایز گردید که به اساس شوق وعلاقه خاص که در همین رشته داشت در مسابقات جوانان سال ۱۳۸۱ در کلاس۵۳کیلو گرام در سکوی قهرمانی قرار گرفت و بعداً در سال ۱۳۸۲ در کلاس ۶۶کیلو گرام یکبار دیگر بر سکوی قهرمانی نایل گردید.

استاد نجیب الله همدرد درباره شهید عبدالوحید چنین میگوید: شهید عبدالوحید که یک ورزشکار حلیم، خوش اخلاق و خوش برخورد با همه دوستان و هم کلاسان و خلاصه با همه مردم بود.

و بالاخره در روز یکشنبه بتاریخ ۱۳۸۳/۶/۸ ساعت ۶ بجه عصر در حادثه انفجار یک بم که توسط دهشت افگنان وبقایای طالبان در چهار راهی انصاری رخ داد به سن ۱۹ سالگی جام شهادت نوشید و نبود وی در بین هم قطاران و ورزش دوستان یک ضایع بزرگ است.

روحش شاد باد
یادش گرامی باد

مسابقات پینگ پانگ اناث تدویر گردید

اولین دور مسابقات پینگ پانگ دربخش اناث بمنظور انتخاب تیم ملی و جوانان اناث روز شنبه ۲۸ سنبله در کلوپ مرکزی پینگ پانگ آغاز گردید در این مسابقات به تعداد ۴۰ تن ورزشکار اناث از شش تیم ورزشی شهر کابل در چهار گروپ به سیستم لیگ با هم برقابت میپردازند.

ورزشکاران زیبایی اندام افغان در بحرین

تیم شش نفری پرورش اندام کشور جهت انجام مسابقات عازم کشور بحرین گردیدند. در ترکیب این تیم یک نفر هیئت، یک نفر مربی و چهار ورزشکار شامل میباشد.

ایشان روز جمعه ۲۷ سنبله کابل را بمقصد دبی ترک گفتند که بعد از آنجا به بحرین میروند، این مسابقات روز اول میزان آغاز میگردد.

استعفای سرمربی تیم ملی فوتبال ارجنتاین



مارچلو بیلسا سرمربی تیم ملی فوتبال ارجنتاین کمتر از یکماه پس از رهبری آن تیم به کسب مدال طلای المپیک آتن از مقام خود استعفا داد. وی روز گذشته در یک کنفرانس خبری اظهار داشت که خسته شده است.

بیلسا در سال ۱۹۹۹ سرمربیگری تیم ارجنتاین را بعهده گرفت.

تیم ارجنتاین، دوبار قهرمان جام جهانی فوتبال در دور اول جام جهانی ۲۰۰۲ در کوریای جنوبی و جاپان از دور بازیها حذف شد و طی دو سال گذشته بشدت مورد انتقاد قرار گرفته بود. این تیم در ماه جولای گذشته در بازیهای جام قهرمانی کشورهای امریکای جنوبی در مکان دوم قرار گرفت و ماه گذشته مدال طلای المپیک را کسب کرد.

کارلوس بیانچی سرمربی پیشین باشگاه بوکا جونیورز از پر طرفدارترین کاندیداها برای جانشینی بیلسا تلقی می شود.

در حال حاضر در بازیهای مقدماتی جام جهانی فوتبال ۲۰۰۶ ارجنتاین در رده بندی تیمهای گروپ خود در مکان دوم قرار دارد.

پروژه فوتبال آلمان آغاز گردید

در ماه جون سال ۲۰۰۳ پروژه فوتبال آلمان با فرستادن کارشناسان فوتبال آقایان هولگر او برمن و علی عسکر لعلی همکاری خود را به فدراسیون فوتبال افغانستان آغاز کردند که هدف آن بلند بردن سطح فوتبال در تمام ولایات کشور مخصوصاً در قسمت نو نهالان و جوانان می باشد. سال گذشته ترینرهای مرکز کشور باتعلیم دیدن کار عملی خود را با جوانان اغاز نماید.

از مدت ۶ روز به این طرف سیمینار برای مربیان ولایات برگزار گردیده است. که این سیمینار به شکل نظری و عملی بوده و مدت دو هفته دوام می کند. مربیان تعلیم دیده قادر خواهند بود تا با جوانان و نو نهالان عملاً کار و ذر بلند بردن سطح فوتبال در سرتاسر کشور مصدر خدمت گردند.

کردند که تشکیل تیم های زیر سن ۱۰ سال، زیر سن ۱۴ سال، زیر سن ۱۵ سال، زیر سن ۱۷ سال و زیر سن ۱۹ سال و کار با آنها می باشد.

بعد از برگشت آقای اوبرمن به کشورش دولت آلمان کار شناس دیگری به نام کلاوس شترک به افغانستان فرستاد تا در قسمت تربیه مربیان ولایات با همکار خود علی عسکر لعلی همکاری

زرقاوی شخصاً گروگان امریکایی را اعدام کرد

ستیزه جویان عراق ویدیوئی را درانترنت منتشر کردند که سربریدن یک امریکایی را که هفته گذشته دربغداد ربوده شد، نشان می دهد.

ستیزه جویان نقابداردر ویدیو می گویند ابومصعب الزرقاوی، رهبر تروریستی تحت تعقیب، شخصاً گروگان امریکایی را اعدام کرده است.

مقامات امریکا اعلام کردند که جسد گروگان به دست آمده است، اما اطلاعات بیشتری منتشرنکردند.

ستیزه جویان هشدارداده اند اگرنیروهای ائتلاف کلیه زنان زندانی را درعراق آزاد نکنند، یک گروگان دیگرامریکایی ویک گروگان بریتانیایی را نیزکه به اتفاق گروگان اعدام شده ربوده اند، ظرف ۲۴ ساعت اعدام خواهند کرد.

طبق یک خبر دیگر دستیاران یک روحانی بلندپایه شیعه درعراق می گویند ۱۸ سرباز اسیرعراقی ازسوی رباینده گان خود که تهدید کرده بودند آنان را اعدام خواهند کرد، آزاد شدند.

رباینده گان خواستارآن شده بودند که مقامات عراقی یک دستیارمقتدی صدر، روحانی افراطی شیعه، را که اخیرا بازداشت شده بود، آزاد کنند.

اسرائیل دو عضو حماس را کشت

دو عضو گروه اسلامگرای فلسطینی حماس در حمله طیارات اسرائیلی در شهر غزه جان خود را از دست داده و چند نفر دیگر نیز زخمی شده اند.

در ساعات اولیه شامگاه ۲۰ سپتامبر، طیارات نظامی اسرائیلی در آنچه که یک عملیات طرح ریزی شده به منظور حذف تندروهای فلسطینی اعلام شده یک موتر جیپ در شهر غزه را هدف راکت قرار دادند و آن را منهدم کردند.

در این حمله دو سرنشین موتر کشته و هشت رهگذر زخمی شدند.

منابع نظامی اسرائیلی کشته شدگان این حمله را از اعضای گروه های تندرو فلسطینی اعلام کرده و گفته اند آنان عازم انجام ماموریت پرتاب راکت به داخل اسرائیل بودند.

منابع فلسطینی کشته شدگان را از فعالان گروه اسلامگرای حماس در مناطق جنوبی باریکه غزه اعلام کرده اند.

همچنین، به گفته منابع شفا خانه ها در غزه، در حمله هوایی اسرائیل هشت نفر دیگر از جمله دو کودک زخمی شدند.

به گفته شاهدان عینی ماموران نجات توانستند اجساد سوخته دو سرنشین جیپ را از میان بدنه متلاشی شده موتر بیرون بکشند.

حمله غزه دومین عملیات ترور اعضای سازمان های تندرو فلسطینی در غزه ظرف دو روز اخیر بوده است.

روز ۱۹ سپتامبر، یک هلی کوپتر اسرائیلی راکتی را به سوی یک موتری در غزه شلیک کرد.

منابع نظامی اسرائیل گفتند که در آن حمله یکی از اعضای بلند رتبه گروه حماس به قتل رسید.

اردوی اسرائیلی به طور مرتب عملیاتی را برای ترور تندروهای فلسطینی در باریکه غزه و همچنین حملاتی را علیه کارگاه های فلزکاری در منطقه به اجرا می گذارد.

هدف از این حملات نابودی، به گفته اسرائیل، مراکز تولید بمب و حذف کسانی است در عملیات علیه اتباع اسرائیلی دست دارند.

به گفته یک سازمان اسرائیلی مدافع حقوق بشر، از ماه سپتامبر سال ۲۰۰۰ بیش از ۱۵۰ تن از اعضای گروه های تندرو فلسطینی توسط اسرائیل ترور شده و در جریان این عملیات، حدود ۱۰۰ غیرنظامی نیز جان خود را از دست داده اند.

توفان استوائی «جین» حداقل ۲۵۰ نفر را درهائیتی به هلاکت رساند

سازمان ملل متحد می گوید توفان استوائی موسوم به «جین» حداقل ۲۵۰ نفر را درهائیتی به هلاکت رسانده و ممکن است تعداد تلفات افزایش یابد.

سخنگوی سازمان ملل متحد اظهارداشت مرگ این افراد براثر سیل وگل ولای درشهرساحلی گونا-ایو Gonaives درشمال غربی هائیتی که نیمی ازآن زیرآب رفته، صورت گرفته است.

سفارت امریکا در پورتوپرنس پایتخت هائیتی اعلام کرد برای کمک های فوری به خانواده های قربانیان، ۶۰ هزاردالرپرداخته است.

سفارت امریکا افزود برای ارزیابی زیان های وارده ونیازمندی های خانواده های قربانیان، ظرف همین هفته هیأتی از واشنگتن عازم هائیتی خواهد شد.

سازمان های امداد بین المللی نیزبرای کمک به حال بسیج درآمده اند.

توفان استوائی هفته گذشته حد اقل ۱۰ نفر را درجمهوری دومینیکن و پورتوریکو به هلاکت رسانید.

سناتور کری بوش را متهم به اشتباهات عظیم درمورد عراق کرد

سناتورجان کری کاندیدای دموکرات ها درانتخابات ریاست جمهوری، آقای بوش را متهم به اشتباهات بزرگ درقضاوت وتشخیص درمورد عراق کرده است.

آقای کری طی سخنانی در پوهنتون نیویارک گفت جنگ عراق باعث انحراف عمده یی ازمبارزه با تروریسم شده است وعراق را به صورت پناهگاهی برای تروریست ها درآورده است وامریکا را دربرابر حملات تروریستی آسیب پذیرتر کرده است.

آقای بوش درجریان مبارزات انتخاباتی خود درایالت نیوهمشایر، باردیگرسناتورکری را متهم کرد اظهارات ضد ونقیضی درباره عراق به عمل آورده است. آقای بوش گفت درمورد اظهارات آقای کری که امریکا به دنبال تهاجم به عراق به مکان ناامن تری تبدیل شده است، به شدت با وی اختلاف نظردارد. درمناظره های قریب الوقوع دوکاندیدای ریاست جمهوری امریکا، یقیناً موضوع عراق ازاهمیت عمده یی برخوردار است.

مرکز مبارزاتی دوکاندیدا شامگاه روزدوشنبه رسماً موافقت کردند آقای بوش وآقای کری تا پیش ازانتخابات ماه نوامبر، درسه مناظره تلویزیونی شرکت کنند.

قرار است یک مناظره نیزمیان کاندیداهای مقام معاونیت ریاست جمهوری برگزارشود.

د تخریبي عناصرو...

خو اوس هغه پرونی زمانه او شیبی نه دي چې زمور هیوادوال په بیلا بیلو پلمو تیر باسي اوس زمور د هیواد هر بچی ویښ او پوه شوی او د هر چا په شومو او ناوړو نیتونو پوه شوي او باید پوه شي چې نور هیڅ څوك نشي کولای چې په یوه او بل نامه د هیوادوالو په هڅونه ځانونه خپل ناوړو اهدارفو ته ورسوي.

زمور هیوا،وال باید یو ځل بیا د هیواد پرونیو حالاتو، ورانیو جنګ جګړو او په جګړو کې د ګټو وړونکو ته وګوري او لدې زیات د خپل هیواد او بچیانو د ژوندانه د ویجاړوونکو لپاره اجازه ورنه کړي او هغه کسان چې د جهاد په پلمه د دولت په وړاندې خلك پاروي.

یو لاس شي او د امنیتي مسوولینو په واك یې ورکړی او د هغوی د تخریبي پلانونو په وړاندې چې اوس، یې وروستي هلی ځلی دي د اندیښنې په ځای عملاً ودریږي او د قانون منګولو ته یې ورکړی.

امریکا د سوداګری...

د افغانستان د سوداګری وزیر مصطفی کاظمی پرون پدې برخه کې د امریکا او افغانستان د دولتونو تر منځ لاسلیك شوی تړون د هری کلی په څنګ کې وویل: د هیواد اقتصادي پیاوړتیا د خلکو د ژوند ښه والی یوازې د کورنی او بهرنی پانګی اچونې له لارې ترسره کیدای شي او پدې برخه کې یې د امریکا وندې اغیزمنه وبلله. د دواړو هیوادونو په منځ کې د اړیکو د جوړولو لپاره د امریکا او افغان د سوداګری او پانګه اچونې د یوې ګډې شورا د جوړولو تکل هم شوی دی.

یه بلخ کې...

چې یو تن یې ووژه او دوه یې ټپیان کړل. د بلخ د امنیت په اړه پدې وروستیو کې اندیښنې زیاتی شوي او د مزار شریف د پولیسو مشر ویلي چې یو ځل بیا په هغه ښار کې د نا مسئولو وسله والو وسله والو کسانو شمیر زیات شوی. د سیمې خلك دا وسله وال د بلخ د نوی نظامی والي عطا کسان بولي چې تازه ملکي دندی ته ننوتلي او یوه فرقه یې له وسله والو ډکه ده.

اعلان

کمیسیون عالی سرمایه گذاری به اطلاع سرمایه گذاران وصنعت کاران میرساند که عنقریب زمین در پارک های صنعتی در ساحات کمری، ده سبز وسنجد دره آماده توزیع خواهد گردید.

آنعده سرمایه گذاران وصنعت کاران که در رشته های قالین بافی وفرش دستی، صنعت چرم گری، مواد خوراکه، تولید مواد ساختمانی وتهیه میوه جات صادراتی علاقه مند خرید ویا اجاره زمین باشند میتوانند از تاریخ ۲۸ سنبله الی ۱۱ میزان به ریاست حمایه سرمایه گذاری مقابل وزارت امور خارجه عقب مسجد سید مجنون شاه به روز های شنبه الی چهار شنبه از ساعت ۸ الی ۴ عصر غرض اخذ فورمه تشریف بیآورند.

ERADA Daily

Daily Independent Publication,
Founder: Haji Sayed Daud,
eradadaily@ hotmail.com

Publisher: Afghan Media Resource Center
Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
Deputy: Suhrab "Didar"

اراده درویرایش وپیرایش مطالب دست بازدارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجي مير احمد)
تیلفون موبایل: ۰۷۰-۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰-۲۲۲۷۲۶

زیر نظرهیأت تحریر انتشار مییابد
موسس و صاحب امتیاز: سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب "دیدار"

اراده
روزنامه آزاد و ملی نشریه مرکز نشرات افغان
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوي نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوزودیزاین: صدیق الله "صادق" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی